AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۱/۰۴/۱۳

# د کعبې لوټماران

په کابل کې د حفیظ الله امین خونړی واکمني وه او په ایران کې د آیت الله روح الله خمیني په مشرۍ د (لا شرقیة لا غربیة، جمهوریة اسلامیة) شعارونو د تهران په کړون، د ایران د سترو ښارونو لارې او کوڅې په سر اخیستي وې. اسلامي نړۍ د پنځلسمې هجري قمري پیړۍ د هرکلي لپاره د جشنونو په تیاریو بوخته وه چې ناببره د مکې څخه د مهدي منتظر او کعبې د اشغال زاره چاودو خبرونو، هر کلمه ګو اریان دریان کړ. د سعودي عربستان د یو متقاعد ضابط، جهیمان العتیبي په مشرۍ دوه سوو تنو چې په تابوتونو کې یې وسلې راوړې وې، د سهار له لمانځه وروسته د المسجد الحرام امام ګوښه او ټولې دروازې یې بندې کړې. په لوډسپیکرو کې د محمد القحطاني سره د مهدي په توګه، د بیعت غوښتنه وشوه او نژدې پنځوس زره حاجیان او لمونځ کونکي را حصار شول. د بیت الله کلا بندی او خونړی جګړې چې د ۱۹۷۹م کال د نومبر په شلمه پیل شوې وه، دوه اونۍ وخت ونیو او د ډسمبر په څلورمه د فرانسوي مشاورینو په مرسته پای ته ورسیده. د عربستان رسمي بیانیه د مړو شمیره درې سوه په ګوته کوي، خو د الجزیرې د (ما خفی اعظم) پروګرام له مخې د قربانیانو تعداد له پنځو زرو څخه هم زیات دی چې په دوی کې یرغلګر، امنیتي ځواکونه او له دولسو هیوادونو څخه راغلي حاجیان شامل دي.

مګر له دې پیښې زر کاله وړاندې، هغه څه چې قرمطیانو د ابراهیم خلیل الله په لاس د توحید په خاطر په دې جوړې شوې کعبې کې تر سره کړیدي، جهیمان یې پارسنګی هم نه دی. کله چې امام حسین رضي الله عنه په کربلاء کې شهید شو، نو د امویانو او بیا د عباسیانو پر ضد د علوي غورځنګ په نوم یو پټ مذهبي تحریک را منځ ته شو. مازی یو شعار یې درلود؛ خلافت د امام علي او د هغه د اولادې حق او میراث دی او له دوئ سره ظلم شوېدی. دغه پټ خوځښت د ځان لپاره د (آل البیت) ناره غوره کړه او د فعالیت ساحه یې ورو ورو له بغداد څخه شام، بحرین، سلطنة عمان او یمن ته خوره شوه. د آل بیت پلویان او مدعیان په ډیره لږه موده کې په څو ډلو تقسیم شول چې غټه ډله یې د اثناعشري یا دوازده امام فرقه ده.

د دوئ له نظره، دولس امامان عبارت دي له حضرت علي، حسن او حسین رضي الله عنهم بیا په ترتیب سره امام سجاد، امام باقر، امام جعفر صادق، امام موسی کاظم، امام رضا، امام جواد، امام هادي، امام حسن عسکري او امام مهدي. اهل تشیع عقیده لري چې حضرت مهدي همدا اوس ژوندی دی او د عراق د سامراء په کوم سرداب (سمځه) کې اوسیږي. یوه ورځ به له دغه غار څخه راووځي او په ټوله دنیا کې به د عدل او مساوات یو نړیوال حکومت جوړ کړي. د اسماعیلیه ډلې پیروان له دوازده امام فرقې سره یو ژور اختلاف لري او داسی انګیري چې د شپږم امام (جعفر صادق) ځوي، موسي کاظم اووم امام نه دی بلکې د هغه ورور (اسماعیل بن جعفر) اووم امام دی. د فاطمي دولت مشران چې نژدې درې پیړۍ یې په مصر کې واکمنې وکړه او بیا د صلیبیانو سره د همکارۍ په تور د صلاح الدین ایوبي لخوا له منځه یوړل شو، د همدې فرقې پیروان وو.

حمدان قرمطي (په عربي کې لنډې سړي ته قرمط ویل کیږي) چې اصلا د ایران د خوزستان څخه په ۲۵۸هجري قمري کې کوفې ته تللی وو، له اسماعیلي فرقې څخه خپله لاره بیله او د عباسي خلافت په ضد یې ډیر پټ او پیچلی وسله وال بغاوت پیل کړ. په فارس کې یې طرفدارانو دا پارونکی شعار پورته کړ چې امام حسین خو عربانو وژلی، باید غچ یې واخیستل شي. په بغداد کې عباسي خلیفه او وزیران یې دغه مهال د فیل په غوږ کې ویده وو. پوره پنځلس کاله وروسته پوهه شول چې قرمطیان داعیان ندي، بلکې باغیان دي او ټکول یې واجب دي. اګر که اوبه یو څه له ورخه تیرې وې، خو بیا هم د حمدان ګڼ شمیر پلویان ونیول شول، مګر پخپله بحرین ته په تیښته بریالی شو. له اسماعیلیه فرقې سره د قرمطیانو توپیر دا دی چې قرمطیان خپل امامان، د پیغمبرانو هم پله او یو برابر ګڼي. مشهور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مورخ الطبري ليکي سره د دی چې قرمطيان حتی د علويانو او اسماعليانو لپاره يو غټ سرخوږي وو، خو د عباسي خلافت پر ضد دوی دری واړه په يو مورچل او يوه ليکه کې ولاړ وو.

قرمطيانو په ۲۸۶هجري کې د بحرين ټوله جزيره پخپله ولکه کې راوسته او په لږه موده کې يې د نن ورځې د سعودي عربستان د القطيف بيا د الأحساء سيمې ونيولې او لښکرې يې حجاز ته ورسيدې. مکې ته په لاره د بې وسلې حاجيانو هغه کاروان چې شمير يې دوه زره اوسوه نفرو ته رسيده او نژدی پنځه سوه تنه يې ميرمنې وې، ټول له تيغه تير کړل او د عباسي خلافت بيرغ ته يې اور ولګولو. د مکې مکرمې لپاره د اسلامي تاريخ تر ټولو خونړی او ويرجن موسم ۳۱۷ هجري قمري کال وو چې ابو طاهر القرمطي د زرګونو ناترسه جګړه مارو سره مکې ته داخل شو. د اسلامي نړۍ په لر او بر کې مفتيانو، فتوی صادره کړه چې هيڅ څوک به سږ کال حج ته نه ځي او را روان کال ته دی منتظر پاتې شي. د مکې خلک په عذرونو او ننواتو سره دغه وحشي قومندان ته ورغلل چې په حرم باندی له تيري څخه تير شي او د ابرهه تاريخ تکرار نه کړي. خو قرمطي دغه جرګه ماران ووژل او د خپل سړي خور لښکر سره مسجد حرام ته ننوت.د زرګونو حاجيانو سپين احرامونه يې په وينو سره کړل او د زمزم په چينه کې يې متيازې وکړې.

کله چې د حرم دننه يو ژوندی کس هم پاتې نه شو، نو ابو طاهر القرمطي خپل ايله جاري ته امر وکړ چې د مړو انبارونه د زمزم په کوهي کې وغورځوي. د کعبې له بام څخه يې د سرو زرو ميزاب (ناوه) راکوزه کړه او د کعبې پوښ يې ځيرې ځيرې کړي. د څو ورځو خونړي تاړاک په پای کې نوموړي حجر اسود له کعبې څخه جلا او له ځان سره بحرين ته يووړ. عباسي خلافت له خپل پيل څخه تر پايه، هيڅکله هم د دومره ذلت سره نه دی مخ شوې څومره چې د قرمطيانو په لاس سپک سپاند شو. په بغداد کې خليفه د دوو لسيزو لپاره هر کال ۱۲۰ زره طلايي ديناره بحرين ته باج (جزيه) وليږله او په همدې ټولې مودې کې حاجيان او عمره کونکي د حجر اسود له ليدلو او مسح کولو څخه محروم وو. البته د پنځمې هجري قمري صدۍ په ترڅ کې سلجوقيانو، قرمطيانو ته ماتې ورکړه او اسلامي نړۍ يې له شره خلاصه شوه.

دلته دوو ټکو ته اشاره بې ګټې نه ده؛ لومړی دا چې د نړۍ د يو اعشاريه اته ملياردو مسلمانانو د ټول نفوس يواځې ۱۲ فيصده شيعه ګان او پاتی ۸۸ سلنه يې سنيان دي. دويم دا چې تاريخ ګواه دی هره بلوسه، نښته او جنګ غالب او مغلوب لري، خو د مذهبي جګړو دواړه خواوې د تل لپاره مغلوبې وي او هيڅ چا تری سود نه دی وړی. د سوريې يو بلاګ ګر، نزار سعيد الحلبي ليکلي ( سوريې ته له نورو ځايونو څخه راغلو مذهبي مليشو په حلب کې هغه څه وکړل، که القرمطي ژوندی او دا کنډوالې يې ليدلې وای، نو حتما به يې له ډيره غروره ويلي وو چې افرين شه، زما غورځنګ خو اوس رنګ راوړ).

---------------------------------------

يادونه: د الجزيرې نړيوال ټلويزيوني چينل د استاذ احمد ابراهيم څيړنيزه مقاله د ( القرامطة.. يوم سرقوا الحجر الأسود واحتلوا الكعبة المشرفة) ترعنوان لاندې خپره کړېده. ما په مننې سره له دغې څيړنې څخه د الهام تر څنګه د نورو تاريخي سرچينو څخه هم اقتباس کړی او پاسنۍ مقاله مې ليکلې ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ